مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سیدعبیدالله نادر

۲۰۲۴/۰۲/۰۱

# د جانان خیال

لکــه پرخـــه، په ګـــلونو کې اوســیږم
د جانان خـــیال یم، په زړونو کې اوسيږم

نایابه یو ګـــــوهر یم،په سمــــــندر کې
په پراخـــه دریابــــونو کې اوســـــیږم

د ایرو په خـــــــیر په ســل ژبو خاموشه
د ســـــکروټو په ســــــرونو کـــې اوسيږم

د دردمنو زړو کې ځـــای لرم پـــــوهیږم
زه د زړونو په ښـــــارونو کې اوســـــیږم

چې می څوک پیدا کوی نشی، هیڅ ځای کې
زه په داســــــې محـــلونو کې اوســـــیږم

چـــیرته هـــم د ورکې نه یم په دې دَور کې
زه په لـــــوړو، خـــیالونو کې اوســـــــیږم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ